# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@gmail.com www.afgazad.com

| مسائل ایدئولوژیک | Ideological |
|---|---|



درویش وردک

۱۰ جنوری ۲۰۱۷

# دوه شپیتم مجلس (په توحید کی)

## پنځمه برخه

شیخ( رضی الله تعالی عنه) وړاندی داسی وفرمایل: ای زاهدانو، ای عابدانو، اخلاص ولری، اوکه نه نو دبریالیتوب مدعی مه اوسی. لمونځ اوروژه نیسی،په خوړو اوجامو کی خشونت(زیږوالی) مراعات کوی، ولی په اعمالو کی مو اخلاص نه ترسترګوکیږی،بلکه هوی اوهوس اونفس یکی تامه مداخله لری. پوه شی چی داولیاءالله اعمال غیرله دی ځخه دی، دوی دزړه اخلاص دخپلواعمالو پشتیوانه ګرځولی، اوله ټولو مقدراتوسره سازګاره اوموافق دی، دشرعی حدود او اوامر په ظاهر اوباطن کی رعایت کوی، اودرسول اکرم(صلی الله علیه وسلم) په سنتو پایبند دی. دخدایی علم حق چی په زړونو کی یی ځای لری په ځای کوی، دنفس اوزړه حق هم اداء کوی، زړونه یی دخدای په یاد دی، او وجود یی دنیکی اوخلق الله دخدمت په لاره کی دی.

مومن چی کله خپل ورور ته پند ورکوی، ولی هغه یی ونه منی، باید ووایی، ما هغه ځخه چی لازم و، وویل اوکارخدای ته پریږدم. عارف دتوحید اومعرفت په توره دخلکو له نفوس سره مبارزه کوی، اودکارماحصل یی هغه چاته پریږدی چی دبندګانو په حال خبردی.

دمومن لپاره بهترین ځیز عبادت دی، ترټولو بهترین ځیزلمانځه ته قیام کول دی، خوږترین وخت هغه دی ورته چی په کورناست اوموذن دلمانځه لپاره آذان وکړی، اوده ته له دی آواز ځخه خوښی اوسرور په زړه کی پیداشی، اوپه خوښی سره دجومات خواته لاړشی، اوکه یی ځه په لاس کی درلودل نو سائل(سوالګر) له هغی نه بی برخی کوی، ځکه چی درسول الله (صلی الله علیه وسلم) وینا یی اوریدلی چی فرمایی: (اَلسَّائِلُ هَدِیَّةُ اللهِ عَزَّوَجَلَّ اِلی عَبْدِهِ)-«سائل دخدای عزّوجلّ تحفه ده چی خپل بنده ته یی استوی».ولی به نه خوشحاله کیږی پداسی حال کی پوه دی چی تبارک وتعالی خدای دفقیرپه واسطه له ده ځخه پوراخلی؟ دغه دمومن آداب دی. ولی دعارف آداب ځه دی؟

عارف دشرعی حدود اوموازین په ټوله سره رعایت کوی، اوزړه له خدای ځخه دغیرو له داخلیدوځخه ساتی، په ویره کی دی له دی ځخه چی مبادا زړه په زړه کی یی غیردخدایه مینه ونه لیدل شی، یا غیرله خدایه بل ته امید اوهیله ولری، زړه یی له ټولو ککړتیاو ځخه پاک کړی، په خلکو اوظاهری وسایلویی اتکاء له ځانه لیری کړی، دنیا اوآخرت ته علاقه نلری، ځکه چی ټول غم اوهم یی یوازی لقاء الله ده اوبس، رسول اکرم(صلی الله علیه وسلم) فرمایلی: (یَقُوْلُ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ یَوْمَ الْقِیَامَةِ لِعِبَادِهِ الْمُومِنِیْنَ: اَثَرْتُمْ آخِرَتَکُمْ عَلَی دُنْیَا کُم، وَاَثَرْتُمْ عِبَادَتِی عَلَی شَهوَاتِکُمْ، وَعِزَّتِی وَجَلَالِی مَا خَلَقْتُ الْجَنَّةَ اِلاَّ لَکُمْ)-«عزّوجلّ خدای دقیامت په ورځ خپلو مومنو بندګانو ته فرمایی: تاسو آخرت په دنیا غوره کړی، اوزما

بندگی مو په شهواتواوهیلوبرتری ورکړی،زمادی په خپل جلال اوعزت سوګند وی چی جنت می ندی پیداکړی مګریوازی ستاسولپاره».

دادلوی خدای قول دی ددی قوم په هکله، ولی دده قول ددوستدارانو په هکله داسی دی چی دوی مخاطب کوی اوفرمایی:

**«تاسوماته زما په ټولو مخلوقاتوبرتری راکړه، په خلکومو دتکیی کولوحس له زړه څخه وایست، نوځکه تاسو دخپلی لقاء په موهبت سره مفتخروم اوخپل قرب ته مورسوم، تاسو زما برحقه بندګان یاست»**.سُبحان اللهِ وَبِحَمدِهِ سُبحانَ اللهِ العظیم.

له اولیاء الله څخه داسی کسان شته چی دجنت له طعام اوشرابو څخه برخمن وی، اوهغه څه چی په جنت کی دی له سترګویی پټ ندی، ځینی کسان هم شته چی له اُکُل او شرب (خوراک څښاک) څخه یی سترګی پټی کړی، اوله خلکویی کناره نیولی، اودخلکو دسترګونه پټ اوږد عمرونه لری، ددوی دوجود په برکت دی چی له آسمانه باران اوری، اوله ځمکی څخه ګیاوی راشنی کیږی، اودوی دخلکو څخه دبلایاو مدافع دی. دملائکوطعام اوشراب یی دحق ذکر تسبیح اوتهلیل دی ، چی داغلبو اولیاء الله طعام اوشراب(څښاک) هم همداسی دی.

ولی تاسو چی دشیطان دسترګو توراوبنده یاست، پوه شی چی هیڅ بزرګواری اوکرامت نلری، راشی دنفس دشیطان خدمت خوشی کړی اوله هغی څخه لیری شی، اودزړه په ګامونو دخدای لورته راشی، اوله هغه څخه وغواړی چی تاسوته دداسی خدمت توفیق درکړی چی الله درڅخه راضی شی. له ده وغواړی چی تا سوهغه نه خلاصیدونکی خزانی ته چی هماغه دحق رضایت دی راهبری کړی، اودهدایت هغه څراغ ته مورلاربنوونه وکړی چی هیڅکله نه خاموشه کیږی، غوښتنه وکړی ترڅو مو ددینا بغض په زړو کی ځای کړی، اودآخرت حب مونصیب وګرځوی، کله چی دغه موهبت ته ورسیدل، هغه وخت وغواړی ترڅو دآخرت حب مو هم له زړو څخه زایل کړی، اوپرته دده داقدس ذات له حب څخه یکی کوم څه باقی پاته نشی. ولی ته چی دخلکو بنده اودظاهری سببونو چاکریی، نشی کولای چی دغه منزلت ومومی. که دخالق بنده وای ، خپلی ټولی اړتیاوی به دهغی ته خوشی کړی وای.

ولی تاسوداسی څه وایی چی ستاسو وینا هغه تکذیبوی؟ مګردعزّوجلّ خدای قوم موندی اوریدلی چی فرمایلی یی دی: (یَااَیُّهَا الَّذِیْنَ آمَنُو لِمَ تَقُولُونَ مَالاَتَفْعَلُونَ، کَبُرٌ مَقْتاً عِنْدَ اللهِ اَنْ تَقُولُوُ مَالاتَفْعَلُونَ)-« ای هغوکسانوچی ایمان موراوړی، ولی هغه څه وایی چی عمل نه پری کوی، پرته له کرداره ګفتار دخدای دخشم اوغضب سبب ګرځی. سوره صف آیه ۳».

ستاسو موکلی ملائکی ستاسو له وقاحت اوبی شرمی څخه په حیرانی کی دی، ستاسو له ډیرو درغوڅخه تعجب کوی، داچی په خپل توحید کی صادق نه یاست په عجب کی دی.ستاسو ټولی خبری دګرانی او ارزانی په هکله دی، دسلاطینو اوشتمنو دحال په هکله، چی فلانی څه وخوړل اوفلانی څه واغوستل، اوله چا سره یی واده وکړ، څوک بډای دی اوڅوک درویش، پوه شی چی ټول دغه شیان هوی ده اوهوس اودعقوبت موجب. توبه وباسی اوله دغه ګناوڅخه لاس واخلی، دخپل خدای خواته راوګرځی، خدای په یاد ولری اونورهیرکړی.زما دوینا ثبات دایمان نښه ده، اوله هغی څخه تیښته دنفاق علامه. ای چی ماته طعنه راکوی، راشه چی ددارو اعمال دشرعی په محک(تله) وتلو، ترڅو دافعالو غل اوغش هویداشی، اوهغه چی اعمال یی ناخالص راووتل دطعن اوملامت لایق به وی، نومخکی راشه اودنامردانوپه څیرمه پټیږه. وای پرتا! حیرانی ده! ډیرژربه دخپلو اعمالو له نتیجی باخبره شی.

**لویه خدایه، زمونږ توبه ومنه اوپه دنیا اوآخرت کی مو مه رسواکوه. آمین!**

**«وآتنا فی الدنیا حسنه وفی الاخرة حسنه وقنا عذاب النار»**

**نوربیا......**